ژباړن : نثار احمد صمد نېټه : ۲۰۰۹/۸/۲۴

# له افغانستانه د راوتلو وخت

ليکوال : اريک مارګوليس ، منبع : ټورنټوسن ورځپاڼه ( کاناډا ) ، نېټه : ۲۰۰۹/۸/۲۳

د بهرنيو اشغالګرو پوځونو تر ټوپکونو لاندی انتخابات مشروع يا ديموکراتيک کېدای نه سی .
په افغانستان کی د لويديځو طاقتونو لخوا د غوره سوو کانديدانو لپاره د دې اوونی په لاس جوړه سوې رايه ګيري امکان نه لری چی دغه بدبخته هېواد ته چی د ديرشو کالو راهيسی جنګ ځپلی دی ، کومه سوله راوړی .

طالبانو او د هغوی ملت پالو ملګرو دغه انتخابات د درغليو په حيث رد کړل او هغه يې د بهرنی نيونی د پايښت او د لويديځ لپاره د تيلو او ګازو د پايپ لاينونو يوه طريقه بللي ده . طالبان چی د افغانستان د اکثريت نفوس يعنی پښتنو په استاځيتوب ږغيږی ، ويلی چی دوی به صرف هله په ملی انتخاباتو کی ګډون وکړی چی د امريکا او ناټو پوځونه ووځی .

په افغانستان کی د انتخاباتو د مخکنی خوشالي او سياسی تبليغاتو څخه وروسته هر څوک بيرته له هغی دروازي څخه راووتل چی ورننوتلي وو . ښايی د امريکا لخوا نصب کړئ خوش طبعه مشر حامد کرزی بيرته پر قدرت پاته سی خو واک به نه لری .
واشنګټن بيا هم د خپل دغه بې واکه مشر څخه لاسته راوړني غواړی خو هغه يې نسی کولای . د کرزي رژيم په عين حال کی د فساد ( رشوت ) او مخدره بيز کاروبار په څپو کی ډوب دی .

اصلی قدرت د تاجک او ازبيک اقليت د مقتدرو کسانو او هغو ځايی ، مخدره بيز قومی کاروباريانو سره دی چی واشنګټن پيسي ورکوی تر څو د کرزي ملاتړ وکړی . د تاجکو او ازبيکو تر شا د هغوی ساتندويان يعنی روسيه ، هند او ايران ولاړ دي .

د افغانستان پښتنی قبايل چی د نفوسو ۵۵٪ جوړوی ، تر ډيره حده له واک نه ايستل سوي دي . هغوی په ۱۹۸۰ لسيزه کی د شورويانو پر ضد په جنګ کی د لويديځ نږدې ترين ملګري او پلي عسکر ( « د آزادئ جنګيالي » ) وو .

طالبان د ۱۹۹۰ لسيزی د لومړنيو کلونو د ناولي کورني جنګ پر مهال د ښځو د پراخو جنسی تيريو د پای ته رسولو ، د نظم راوستلو او د افغان مخدره بيز کاروباری کمونيستانو سره د جنګ په هدف د يو اطرافی خو اکثرأ پښتنی مذهبی غورځنګ په توګه راپورته سول . دغو په اصطلاح « تروريستي طالبانو » حتی د سپتمبر د يوولسمی د حملې تر څلور مياشتو مخکی پوری لا د امريکا پيسي تر لاسه کولی . خو واشنګټن خپله دا مرسته وروسته له هغه تم کړه چی طالبانو يوه وژونکي اشتباه وکړه او هغه دا چی د پايپ لاين غځولو ستره معامله يې د امريکايی نفتی کمپنی پر ځای ، چی د راپورونو له مخی حامد کرزي د يو سلاکار په توګه کار ورسره کاوه ، برعکس د يوې ارجنټاينی کمپنی سره وکړه .

## د تيلو پايپ لاين -

په افغانستان کی اوسنی روانه جګړه د ديموکراسی ، ښځينه حقوقو ، ښوونی روزنی او يا هم هېواد جوړونې په خاطر نه ده . القاعده بله هغه پلمه ده چی په زغرده شتون لری . هغوی چی څو کسان دي ، ډير مخکی لا پاکستان ته اوښتي دي .
ځکه نو دا جنګ په حقيقت کی د تيلو د پايپ لاين د خط السير او د لويديځ په واسطه د کسپين د انرژي څخه پر ډکی حوزي د تسلط لپاره دی او بس .


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

افغانستان د يوې هغسي درې پښه ييزه جګې څوکۍ غوندی دی چی پر درو توکميزو پښو ولاړ دی ، او که يې پښتني پښه ترې ليری سی نو ټينګتيا او ولاړه يې نامکنه کيږی . په افغانستان کی به هيڅکله هم کومه سوله او ثبات را نه سی څو چی ټولو توکميزه ډلو ته مدنی حقوق نه وی ورکړل سوي . لويديځ بايد د اکثريت يعنی پښتنو پر خلاف چی د قدرت او ګټو د قانونی ونډی مستحق دي ، د تاجکو او ازبيکو د اقليت د ملاتړ څخه لاس واخلی .

د دې غير ضروری جنګ حل لاره ډول ډول ساختګی انتخابات نه بلکی د توکميزو ډلو تر منځ هغسی يو پراخ سوله ييز تړون دی چی په ۱۹۷۰ کلونو کی د شوروی يرغل څخه مخکنی جاری وضعه بيرته راستنه کړی . دا په کابل کی د يو کمزوره مرکزی حکومت ( چی کرزی د دې دندی لپاره په زړه پوری دی ) او تر ډيره حده د پښتنو ، تاجکو ، ازبيکو او هزاره ګانو د سيمو د ځانی ادارو په معنا دی .
حکومت بايد د قومونو د ديره کېدو يعنی « لويی جرګې » پخواني سيسټم ته وګرځی چی په هغه کی پريکړي اکثرأ تر ډيرو چنو وهلو وروسته په خوښه او رضا سره کيږی . هو ، د افغانانو او دوديزه اسلامی ټولنی يوازينۍ لاره همدغه ده .
ټول بهرني پوځيان بايد ووزی . د افغانستان پر شا وخوا پولو دې يو ديپلوماتيک « ډال يا قرانطين » ايجاد کړه سی تر څو هغه د يو بيطرفه بېلونکي دولت عنعنوی رول ته وګرځی .

هغه ځواکونه لکه امريکا ، ناټو ، هند ، ايران ، روسيه ، د منځنی آسيا کمونيستي دولتونه ، چی د افغانستان ديګ لړی ، بايد دا لاس وهني او ښوروَني پای ته ورسوی . هغوی اوس د افغان مشکل برخه ګرځېدلې ده . افغانان بايد پرېښودل سی چی خپلی ستونزی په افغانی دود دستور سره هواري کړی ، آن که هغه په ابتدا کی يو څه وينی هم په بر کی ولری . ځکه د دې څخه چاره نسته .

د مخدره ييز تجارت د ساری ناروغۍ د ختمولو يوازينۍ چاره دا ده چی پاکستان او د منځنۍ آسيا هېوادونو ته ورتېرېدونکي پولی وتړل سی . خو د هماغو هېوادونو هغه لوی مامورين به ضرور مقاومت وکړی چی د مخدره توکو روپيو فاسد کړي دي .

موږ نه سو کولای چی د افغانستان اجتماعی او سياسی ستونزي په دې ظالمانه او ظاهرأ نا پايه جنګ سره حل کړو . يو لوی برتانوي جنرال همدا لږ څه مخکی اخطار ورکړ چی د ده پوځونه به د نورو ۴۰ کالو لپاره دلته پاته وی ( خو وروسته منکر سو ) .

لويديځو طاقتونو د کاناډا په شمول ، د افغانستان دغه خونړۍ ورانه وراني ښه پسی ډيره کړې ده . نور نو دا وخت رارسېدلی چی هغوی خپلو هېوادونو ته ستانه سی .

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de